سراج الحق بیرک زی ځدران ۲۰۱۵/۰۷/۲۶

د پښتونولۍ حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ

اوومه برخه

۶. د پښتونولۍ د مرکو، ملي جرګو، لویو جرګو سیاسي او حقوقي کانسپټ

افغانستان په نړۍ کې یواځینۍ هیواد دی، چې د لرغونو زمانو څخه تر اوسه د پښتونولۍ د مرکو، جرګو او لویو جرګو ارزښتمن دودونه، سیاسي ارزښتونه او حقوقي نورمونه په ملي او دولتي کچه په کې شتون لري. افغانستان په نړۍ کې د لویوجرګو، مرکو او د سولیزو خبرواترو یوه پنځه زره کلنه زړه تاریخي کلاه بلل کیږي.
لویې جرګې د افغانستان په اوږده رسمي سیاسي تاریخ کې یوې سیاسي دولتي معتبري مرجع او ملي موسسې ته وده کړې. لویه جرګه په نړۍ کې د پښتنو افغانانو یوه بریالي عالي سیاسي ملي موسسه پیژندل شوې ده. ځکه لویې جرګې د افغانستان په لرغوني او محاصر دولتي فلسفه کې خپلې ژورې ریښې لري او د افغانانو په سیاسي دولتي تاریخ او د افغانانو په ملي فکرونو کې خپل ځانګړي ځای اهمیت او قدامت لري. لویه جرګه د افغانانو یو تر ټولو ستر عالي او ارزښتمن ولسواکه اورګان دی. د افغانستان په اساسي قوانینو کې لویه جرګه د افغان وګړو د سیاسي ارادې د تمثیلولو یو تر ټولو ستر عالي مظهر پیژندل شوې ده. جرګه قبایلي لرغوني ایډیالونه او سیمه ییزه قانوني فکرونه د نن ورځې په ولسواکه نرخ کې مجسموي، جرګه په افغاني ټولنه کې د ټولنیز عدالت اوحقوقي بیلانس یا توازون ساتلو لپاره راغوښتل کیږي. لویې جرګې د بیان آزادي، د خبرواترو او د یو بل د زغملو ستر لرغوني افغانۍ کلتور دی. لویو جرګو د افغان ملت هویت او د افغانانو د ملي دولتونو حقوقي بنسټ ایښودلي دی، له شکه پرته لویه جرګه یوه پښتني قبایلي لرغوني ولسواکۍ ده. افغانانو ته د لویو جرګو پریکړې او فیصلې د یو ځانګړي، لرغوني قبایلي پارلمان پریکړې په څیر د درنښت وړ پریکړې دي. لویو جرګو د افغانستان د کورنې او بهرنې سیاست په اړوندو مسایلو کې مهمې پریکړې ترسره کړې دي. له همدې کبله په نړیواله کچه په مختلفو ژبو د لویه جرګه په اړه یو شمیر پوهنیزه څیړنیزه پلټنې تر سره شوې دي. د افغانستان د دولتي رسمي تاریخ په څیړنو کې د لویې جرګې مانا او د لویې جرګې د سیاسي کانسپې مفهوم نن د ګردې نړۍ په هره یوه سیاسي پوهنیزه تحلیلي څیړنه کې، د نړۍ په هره یوه پوهنتوني اکاډیمیکه علمي لیکنه کې او د افغانستان د تاریخ په اړه د نړیوالو په سیاسي، تاریخي، حقوقي، دولتي او علمي کتابونو کې لویه جرګه د افغانانو یو لرغوني ځانګړې قبایلي پارلمان په توګه پیژندلې شوې ده. نن نه یوازې افغانان، افغان ځواکمن واکمن مشران او افغان ملي تاریخپوهان د لویې جرګې په اسطوروي پیژندنه، وده او سمون کې مهم رول لوبوي، بلکې د لویدیځ سیاستوال، پوهنتونو څیړنیزه مرکزونه او د لویدیځې نړۍ ډله ییزې رسنۍ هم ورته پام شوې دی، چې د لویه جرګه په مخلوط یا منځ زړې کې د زړې او لرغونې نماینده ولسواکۍ اساسات، او د یوه ریښتني دودیزې قبایلي پارلماني موسسې معیارونه شته دي. نړیوال په دې پوهیږي، چې په نړۍ کې د افغان ملت اسطوروي هویت او د محاصر افغانستان بنسټ د یوې معتبري مرجع، یوې عالي موسسې یعني د لویې جرګې له خوا ایښودل شوې دی.
په یویشتمه پیړۍ کې دغه پښتني لرغوني قبایلي پارلمنټ د افغانانو د قانوني ملي دولت، دولتي حاکمیت، قانونیت، سیاسي او ټولنیزو ملي مسایلو حل په یوه ساده او روښانه افغاني بڼه کې د سوله ییزو خبرواترو او د ملي پریکړو له لارې د ټول هیواد په ګټه هواره وي.
پارلمان یو زوړ فرانسوي توری دی، مانا یې (Perler) خبرې کولو ته ویل کیږي پارلمان یوه لویدیځه ښکارنده ده همداسې لویه جرګه یوه افغاني ښکارده ده. په لویې جرګې کې هم په یو خاص پارلماني نظم او یو ځانګړي افغاني

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

میکانیزم کې خبرې اترې ترسره کیږي. معمولاً پارلمان ته د ولس منتخب استازې ورپېژندل کیږي. نن په نړۍ کې ډیرې نورې سیاسي غونډو یا ملي اجتماعاتو ته هم پارلمان ویل کیږي. د پارلمان غړي منتخب یا نا منتخب استازې هم کیدای شي. لویه جرګه د یوې محدودې مودې لپاره، د یوې معینې مهمې ملي موضوع او یا د یوې ملي رېږې د حل لپاره د پاچا یا ولسمشر له خوا راغوښتل کیږي، تر څو د هیواد مخور تجربه لرونکي مشران،خانان، ملکان، دیني علما او د اغیزې خاوندان سره سلا مشورې او خبرې اترې وکړي په همدې بنسټ لویه جرګه د افغانانو یو ځانګړي لرغوني پارلمنټ په څیر راغوښتل کیږي.
په ورستیو دریو پیړیو کې افغانستان ته په کورنۍ او بهرنۍ سیاست کې د ورپیښو شویو ستونزو او نړیوالو کړکیچونو له امله، د زبرځواکو یرغلګرو هیوادونو په وړاندې د ملي مقاومت او پاڅون د پریکړې له کبله، د افغان ملت د ملي هویت ساتلو له کبله، د افغانستان ملي دولتونو ته د مشروعیت ورکول له کبله، د اساسي قوانینو د تصویب له کبله او نورو لویو حقوقي، ټولنیزو ملي مسایلو د حل او فصل لپاره لویې جرګې رابلل شوي دي.
جرګه د افغاني ټولنې د ځانګړو ملي ارزښتونو یو ملي میراثي ارزښت دی، د لویې جرګې پریکړې ټولو افغانانو ته د منلو او اعتبار وړ دي، ځکه لویه جرګه ته د افغانستان له هر ټبره، هرقوم، هرې طبقې او هرې سیمې څخه استازي په یوه درنده عنعنوي بڼه د افغانستان او افغان ملت د برخلیک لپاره راغونډیږي. جرګوال پوهیږي، چې لویه جرګې کې د درست افغان ولس د ازادې اراده تمثیل کیږي او د دوی مشروع غښتنې اوریدل کیږي د جرګې خبرې اترې تر هغه دوام کوي، تر څو د جرګې پریکړې یا فیصلې د ټولو جرګوالو د منلو وړ وګرځي.
لویو جرګو د افغاني ټولنې په تاریخ کې د ملي یووالي یوه اغیزمنه بریالي وسیله ده او د تاریخ په اوږدو کې په افغان ملت او پښتني ټولنه باندې ډیرې ژورې ټولنیزې، روحیي او رواني اغیزې درلودلې دي. لنډه دا چې لویو جرګو په ورستیو دریو پیړیو کې د افغانستان په ملي او نړیوالو ستونزو کې خورا مهم رول لوبولې.

لویو جرګو د افغانستان د ملي دولتونو او د افغان ملت د ملي تاریخ د فلسفې بنسټ ایښودلې
د جرګو تاریخ له چینایي مدنیتونو سره تړو لري. کله چې د چین په لرغوني مدنیت کې یوه شخړه یا لانجه رامنځته شوه، شخړې ته به خامخا د جرګې له لیارې یو حل موندل کیده.
د جرګو لنډ تاریخي شالید او تاریخي اسنادو،څیړونو ته د کتنو پربنسټ دا جوتیږي، چې د لرغوني افغانستان اریایي اوسیدونکو خپل لومړني پاچا یما د جرګې له لارې خپل ټولواک ټاکلې وو. جرګې د اریایانو له زمانو څخه زموږ په سپیڅلي هیواد کې دود لري د باختریانو په عصر کې جرګې د سبها او سیمتي جرګو په نوم شتون درلود. له همدې امله لویو جرګو له لرغونو زمانو د افغانانو د ستونزو په حلو فصلو کې خورا مهم اهمیت درلودلې دی.
د پښتنو تاریخ او پښتني ژوند د پښتونولي په فلسفه جرګو، مرکو او د سولیزو خبرواترو پر بنسټ ایښودل شوي دی.
په ۱۵۷۰ کال کې د پیر روښان په مشرۍ یوه لویه جرګه جوړه شوه، په دغه جرګه کې د مغلو د امپراتورۍ په وړاندې د وسله وال مقاومت او ملي پاڅون پریکړه وشوه. دا مهال د یوسفزیو او د ختکو قبیلو دعوه او شخړه د کابل او لاهور ترمنځ د وریښمینو لار د کنټرول باندې راولاړه شوي وه. دا لانجه د همدې جرګې له خوا د یوې پریکړې په ترڅ کې په سولیزه ډول حل او فصل شوه. ختکو او یوسیفزیو قبیلو د افغان ملت د ملي تاریخ، د افغان ملت د ملي یووالي د مفکورې او د افغان ملت هویت ساتلو په لاره کې بیسارې ستر مخکښ رول لوبولې دی. تاریخ شاهد دی، چې دغو دوو پښتني قبیلو د پښتنو د خپلواکي او یووالي په لاره کې د تورې په مټ هم نه هیریدونکې مبارزې کړې دي. ښه بیلګه د نامتو فلسفي شاعر ستر خوشحال خان ختک ده، ختک درې سوه کله مخکې واړه پښتانه له اټکه تر کندهاره یووالي ته رابللي دي، ننګیالی او توریالی ختک خپل ټول ژوند د پښتنو افغانانو په ننګ،عزت، غیرت، یووالي، بقا او لوړتیا په لاره کې تیر کړي دی.
ستر خوشحال خان ختک لیکي: بې جرګې نه به هیڅ کار په لاس وانخلي، که خبر وي د جرګې په برکت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لویې جرګې نه یوازې د غزنویانو، دورانیانو امپراتوري بنسټ هم ایښودلي دی، بلکې د محاصر افغانستان د ملي دولتونو بنسټ هم ایښودلي دی.
د افغانانو په لرغوني تاریخ کې تر ټولو مهمې برخلیک ټاکونکې او ډیر د پام وړ ریښتوني لویې جرګې د میرویس خان نیکه او د احمد شاه بابا په مشرۍ لویې جرګې جوړیدل دي، دغه لویې جرګې د حکومتونو له خوا نه دي رابلل شوي، بلکې د وخت او زمان د اړتیاوو او تقاضا له امله په ملي ولسي ویښ ابتکار سره رامنځته شوي دي. دغو لویو جرګو په نړۍ کې د افغان ملي دولتونو او د افغاني امپراتوریو بنسټ ایښودلو ته لار هواره کړي، دغو جرګو په نړۍ کې د افغان ملت شتون او د افغان ملت هویت په بیر ته را ژوندۍ کولو کې مهم رول لوبولي دی.
لویې جرګې په اتلسمه پیړۍ کې د صفویانو پر ضد د افغانانو په ملي پاڅون کې هم مهم رول لوبولي دی. میرویس نیکه لومړي غلجي او ابدالي قبایل او ورسته ټول افغان ولس یې د جرګو له لارې یووالي ته راویښ کړي. میرویس نیکه ته د افغان د خپلواکۍ او برې لاره مالومه وه، ده په مکې معضمه کې د عربو له دیني علماوو څخه فتوا تر لاسه کړه. میرویس نیکه لومړنۍ جرګه په کوکرانو کې را وغوښتله او افغانانو ته یې د حجاز فتوا واورولې. په دویمه جرګه کې میرویس خان هوتک د پاڅون مشر وټاکل شو او جرګوالو د خپلواکۍ اعلان وکړو. میرویس خان د افغانانو ملي احساسات د خپلواکۍ په جهاد کې سره یو ځای کړل. که څه هم د میرویس نیکه د قیادت مشري او د خپلواکۍ هڅې لنډې وې، ده د افغانانو د ملي خپلواکۍ، ملي دولت او ملي حاکمیت بنسټ ډبره کیښودله، میرویس خان افغانان له قبیلویت پرځای قومیت ته رابللي دي او ده یو ویښ خپلواک افغان ملت ته لاره هواره کړي ده. له همدې ورځې څخه تر ننه هره پښتنه هر افغان په افغانیت او افغان والی باندې ویاړي.
په ۱۷۰۹ کال کې د حاجي میرویس خان نیکه په مشرۍ د مانجي په سیمه کې یوه بله تاریخي لویه جرګه جوړه شوه. په دغه جرګه کې پریکړه وشوه، په افغانستان کې باید نور د ګرګین د ظالمي واکمني او یرغل ته د پای ټکی کیښودل شي. د حاجي میرویس خان نیکه څخه ورسته بیا لوی احمدخان د ده نیمګړي لاره د یو خپلواک افغان ملي دولت ارمان پوره کړو.
د ۱۷۴۷ کال په اکتوبر میاشت کې د کندهار په شیر سرخ کې یوې لویې جرګې د نهو ورځو خبرو اترو څخه ورسته د لوی احمدشا بابا په سر کې د غنمو وړی ورکیښود او دی د لوی افغانستان ستر ټولواک په توګه وټاکل شو. دغه لویه جرګه د غلزیو، پوپلزیو، نورزیو، سدوزیو، اسحقزیو او نور مخور پښتنو قبیلو په مشرۍ رابلل شوې وه. د احمدخان لویې جرګه ته هرې پښتنې قبیلې په ریښتني ټوګه د پښتونولۍ له دود سره سم د خپل ټبر واقعي او ریښتني استازي ور لیږلي وو.
په ۱۲۹۰ کال لویه جرګه د افغانستان د بهرني سیاست په تړاو په لومړۍ ځل کله چې د جرمني د دویم ویلهام یو پلاوي کابل ته راغي او د افغانستان د ټولواک څخه په لومړۍ نړیواله جګړه کې د انګریزانو او روسانو پرضد جګړه کې د برخه اخیستلو غوښتنه وشوه، افغانستان د یوې لوې جرګې په رابللو سره پریکړه وکړه او په لومړۍ نړیواله جګړه کې خپل بې پریتوب اعلان کړو.
د غازي امان الله خان د واکمنې پر مهال څلور لویې جرګې جوړې شوې دي لومړی په ۱۹۲۰ کال په جلال اباد کې جوړه شوې، دې لویې جرګې افغانان د خپل د سپیڅلي هېواد د خپلواکۍ ساتنې لپاره ته چمتو کړل.
د ریفومونو او نوښتونو ویاړلي پاچا غازي امان الله خان ډیره هڅه وکړه، چې د جرګو له لارې په افغانستان کې د قانون حاکمیت بنسټیزه ډبره کیږدي.
د اماني عصر د ۱۹۲۸ کال په لویه جرګه کې د افغانستان ملي بیرغ درې رنګه تور، سور او زرغون رنګونه تثبیت شول، له همدې سره د لویې جرګې له خوا د افغانستان د ملي ښکلي بیرغ او علامه یا دولتي نشان پریکړه وشوه. د افغان ملت درې رنګه بیرغ د افغانستان درې واړه پیرونه یا دورې لرغوني پیر، منځني پیړۍ او محاصر عصر تمثیلوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۳۳۴ کال لویه جرګه د پښتونستان د مسئلې په تړو راوغوښتل شوه. که څه هم په دې تړو له دې مخکې د سفربري اعلان هم شوي وه، د افغانانو لویې جرګې پریکړه وکړه، د پښتنو ستونزه د ټولو افغانانو ګډه ستونزه ده او د افغانستان شاهي دولت د ډیورندلاین کرښه په رسمیت نه پیژني او د لر او بر یو افغان شعار د هر ریښتني افغان په خوله کې را پورته شو.
په ۱۹۴۱ کال کې بیا هم د افغانانو لویې جرګې د په نړیواله دویمه جګړه کې د افغانستان نه ګډون اعلان کړو.
لویې جرګې د لوی افغانستان په رسمي تاریخ کې، د افغان ملت د محاصر ملي سیاسي تاریخ او د افغان ملي دولتونو حقوقي مشرعیت بنسټ کې بنسټیزه ونډه درلودلې ده، لویه جرګه د افغانانو دولتي، سیاسي او تولنیز کلتور یوه نه بیلدونکې برخه ګرځیدلې ده. د لویې جرګې ښکارنده او د لویې جرګې اسطوروي سیاسي اغیزې په اسانه نه شي تشریح کیدای، چې څنګه د افغان د ځواکمنو پاچاهانو له خوا د دریو پیړیو راهیسې د افغانانو لومړني ستر ټولواک اعلیحضرت احمد شاه بابا څخه تر ورستي افغان پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د ملت بابا پورې او د ښې اړخو، کین اړخو ولسمشرانو، دولتمشرانو او ولسواکو دولتونو د لویې جرګې له ځواک او اغیزې څخه د یوې قانوني مشروع مرجع په ټوګه ګټه اخیستل شوي ده. افغان دولتمشرانو د لویې جرګې له لارې خپل دولتي واک ته قانوني مشروعیت ورکړي او له همدې لارې دوی د افغان دولتي حاکمیت د واک ستنې په سولیزه توګه قانوناً په افغان ولس کې ټینګې کړي. افغان ملي دولتونو تل خپلو ملي مهمو سیاسي پریکړو ته د لویې جرګې له لورې مشروعیت ورکړي دی او له همدې لارې ملي دولت خپلو وګړو ته د عامه پوهاوې لار خلاصه کړي ده. د لرو پرتو کلیوالي سیمو او ولسوالیو څخه لویې جرګې ته راغلي ولسي استازي، چې کله دوی له کابله بیرته خپلو سیمو ته ستنیږي، دوی د مرکز حکومت دولتي سیاسي پریکړې او پیغامونه له ځانه سره د افغانستان لرو پرتو کلیوالي سیمو ته انتقالوي.
د لویې جرګې په اړه په نړیواله کچه څیړونو،پلټنو او ارزښتمندو مالوماتو تر اوسه دا ښوولې، چې لویو جرګو په نړۍ کې د خپلو تاریخي بریالیتوبو او بریاو په لړ کې د افغانانو یواځینې خپله عنعنوي سیاسي موسسه ده، چې افغان سیاست په نړیواله کچه نړیوالو ته په روښانه توګه او ژوندۍ پارلماني بڼه وړاندې کوی.
لویې جرګې د افغانستان په سیاسي تاریخ کې ورو ورو د افغان دولتي دریګونې ځواکو د پاسه یو ستر مهم عالي ممتاز حقوقي اورګان یا ځواک ته وده کړې ده.
لویې جرګې په افغاني ټولنه کې څو اړخیزه اغیزه لري، د تاریخ په اوږدو کې لویې جرګې یو دولتي سیاسي اورګان ته وده کړې ده، لویه جرګه نه یوازې د افغانانو د ډول ډول اندونو، فکرونو، کړکیچونو، شخړو او دوعوو لپاره یوه ځانګړې افغاني د حل لار ده، بلکې د افغاني ټولنې د مختلف قشرونه، ګوندونه او په افغانستان کې د بېلابېلو سیمو د اوسیدونکې لږه کې په یو ځانګړې دروند ډیپلوماتیک دود، په ډیر عزت او درنښت سره ټول افغانان د افغان ملت یووالي ته رابلولي.
په ټولیزه توګه د افغانستان په تاریخ کې افغان دولتونه هیڅکله د دې توان نه دی درلودلې، چې دولتي مرکزي اداره او دولتي واک او ځواک د یوې وسیلې په څیر په ولسونو، قومونو کې او لرې پرتو کلیوالي سیمو کې نصب کړي له همدې امله لویه جرګه د مرکزي حکومت او د هیواد د لرو پرتو سیمو د ولسونو ترمنځه د واټن را کمولو یوه ښه بریالي وسیله ده.
په عمومي ټوګه په افغانستان کې نږدې هر قوم یا هر ټبر خپله جرګه یا شورا لري. افغان ملي دولت د قومي جرګو سره نیغ په نیغه تړولري.له همدې کبله په افغانستان کې ملي دولت د جرګې دولت دی. افغان دولتونو لویه جرګه د یو ملي سیاسي اورګان په څیر په اساسي قانون کې تعریف کړي،.تر څو له یوې خوا د ولسي مخور مشرانو، خانانو، ملکانو، کلیوالي مشرانو او له بلې خوا د مرکزي حکومت ترمنځ یو ډول د اعتماد، اعتبار او باور فضا رامنځته شي، له بلې خوا لویې جرګې د افغان حکومت او افغان ولس ترمنځ واټن رالنډوي، هممهاله افغان دولت د ولس له ولسي استارو څخه خپل مشروعیت ترلاسه کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پښتونولۍ د لويې جرګې تعريف، جوړيدل، څرنګوالی او ترمينالوژيک ارزښت
جرګې او مرکې د پښتني لرغوني ټولنې يو ولسواک اصل او يوه غوره نمونه ده ، پښتانه پرته له حکومتي شتون او دولتي محاکمو څخه خپلې خپلمنځي ستونزې او حقوقي لانجې د جرګو له لارې هواروي، پښتانه جرګه او مرکه د پښتونولۍ يو ستر بنسټ او کانسپټ ګڼي.
لويه جرګه د افغانستان د ملي ترمينالوژي يو مهم عنصرمنل شوي دی. افغانانو د خپلو جرګو او مرکو څخه د يو ملي ميراث په توګه تر ننه په خوندي توګه ساتنه کړي ده. لويې جرګې په تاريخي لحاظ افغاني ټولنه کې د خپلې لرغونتيا له امله ژورې ريښې لري او د افغانانو په فکرونو، ملي دودونو او عنعناتو کې تر ټولو ستر اهميت او ځای لري. جرګه د پښتنو يو لرغونی دود دی، چې قومي مخور مشران په کې د بېلابېلو ملي مسايلو په اړه د پرېکړې صلاحيت لري.
افغانانو د خپل لرغوني تاريخ په اوږدو کې تر ننه په بېلابېلو پړاوونو کې د خپلو ملي او سياسي موخو لپاره تل ملي او لويې جرګې رابللي او جوړې کړې دي. پر جرګو باندې د تاريخ په بېلا بېلو پړاوونو کې بېلابېل نومونه ايښودل شوي او لويې جرګې بېلابېلې بڼې يې هم غوره کړې دي.
جرګه هغې غونډې ته ويل کيږي، چې په محلي، سيمه ييز، ملي او نړيواله کچه د پرېکړو صلاحيت ولري او جرګه د خپلو د پريکړو پلی کولو واک هم ولري يا د قضې په اړه د رابلل شوي غونډې حکم ټولو ته د منلو وړ وي. د جَرګې توری په بېلابېلو ژبو کې په بيلا بيلو ماناوو تعريف شوي دی، د پښتنو په تاريخ او پښتونولي په فلسفه کې جرګه يوه مانا او يو مفهوم لري. جرګه د قبايلي سپين ګيرو، تجربه لرونکي او مخورو قومي مشرانو غونډې او جرګې ته ويل کيږي، چې د بېلابېلو مسايلو د حل لپاره رابلل شوي وي. دا ډول جرګې د تاريخ په اوږدو کې د پښتنو په ټولنه او د پښتنو په کليوالي سيمو کې په دايروي شکل جوړې شوې دي. د پښتنو په قبايلو کې د جرګې پرېکړې بايد عملي شي، مخالفت او سرغړونکي ته ډېرې ناوړه پايلې هم لرلي شي.
د افغانستان په اساسي قوانيونو کې لويې جرګې ته يو فصل ځانګړي شوي دی، د جرګو او لويو جرګو تعريف، د جرګود غړو جوړښت، اختيارونه، د جوړيدو څرنګوالی، د جرګو داسې نور اصول او مقررات په کې تثبيت شوي دي. د افغانستان نړدې ټول اساسي قوانين د لويو جرګو له لارې تصويب شوي دي.
لويه جرګه د پاچا يا ولسمشر له خوارابلل کيږي، ترڅو د هيواد په کچه د مهم ملي مسايل، ملي پوښتنو او ملي ستونزو په اړه يوه ټولمنلی ملي روغه پريکړه وشي کړي.
لويه جرګه هغه مهال راغوښتل کيږي، کله چې په هيواد کې ملي مسايل، ملي سياسي مهمې پريکړې، د ملي کړکيچونو حل خبره مطرح شي.
جرګه د پښتنو د را ټوليدني او ناستي يو دوديزه ډول دی، چې په کې مشر او کشر نشته، د جرګې ګډونوال ټول مساوي حقوق لري. پښتانه جرګه د خپلمنځي شخړو او د را منځته شوي کړکيچ د سوليزحل په اوند، د يوې مناسبه پريکړې لپاره راغواړي.
مرکه يوې وړې سيمه ييزې جرګه ته ويل کيږي، مرکه په کلی کې د وړو وړو شخړو او لانجو د حلولو لپاره جوړويږي، جرګه يوه هراړخيزه خپلواکه مرجع يا اورګان دی، چې د کور،کلي، سيمې، تبر، ملي مسايلواو نړيوالو چارو کړکيچونو په کچه باندې عمل کوي. د جرګې پريکړې د ټولو افغانانو له خوا منل کيږي. په دوديزه توګه د هرې جرګې دنده، صلاحيت، د عمل کچه او واکونه مالومه وي. لکه مرکه، کليوالي جرګه، قومي جرګه يا سيمه ييزه جرګه، ملي جرګه يا د لويه جرګه د رابللو موخې او واکونه مالومه دي.
د پښتنو په هره سيمه کې د جرګو او مرکو تجربه لرونکی قومي مشران مالوم او پيژندل شوي وي. په جرګه کې ټول جرګه وال مساوي حقوق او امتياز لري. د جرګو په بهير کې هيڅ افغان د بل افغان څخه د برتري د نه لرلو له پرنسيب څخه کار اخيستل کيږي. جرګه کې هر څوک کولي شي، په خپل وار سره پر اړونده موضوع باندې په ازاده توګه خبري اترې وکړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان له اساسي قانون سره سم لویه جرگه هغه مهال رابلل کیږي، چې د هیواد خپواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او د هیواد په سترو ملي مسایلو باندې پریکړه کیږي. د لویې جرگې بحثونه علني او سري هم ډایریداي شي
د افغانستان د ۱۳۴۳ اساسي قانون د لویې جرگې د تعریف سربیره د جرگې د غړو جوړښت، واکونه او د جوړېدو څرنګوالی په یوه ځانګړي فصل کې تعریف کړی دی.د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې په شپږم فصل کې یوسلو لسمه او یوولسمو مادو کې لویه جرگه په لاندې ډول تعریف شوې ده
لویه جرگه د افغانستان د خلکو د ارادې ترټولو ستر مظهر دی لویه جرگه، د ملي شورى یا ملي جرگې له غړیو، د ولایتونو او ولسوالیو د جرگو له رئیسانو جوړیږي. وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي کولای شي د لویې جرگې په غونډو کې بې له دې چې د رایې ورکولو حق ولري، ګډون کوي. د اساسي قانون په یو سلو یوولسمه ماده راغلي، چې لویه جرگه په لاندینیو حالاتو کې جوړیږي، د هېواد د خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او په سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصمیم نیول.
د ۱۳۴۳ کال څخه راپه دېخوا د پښتونولي د جرگو کانسپټ ته رسماً ً په اساسي قانون کې ځای ورکړل شوي دی ولسي جرگې او مشرانو جرگې رسماً د ملي شورا په ځای په ملي جرگه نومول شوي.
د ۱۳۵۵ کال اساسي قانون (د شورا) تورى د پارلمان له نامه څخه لیري کړو او د هیواد په رسمي ژبو پښتو او درى کې ورته ملي جرگه ویل شوي.
لویې جرگې کې انتخابي او انتصابي غړي ګدون کولي شي، کله چې د افغانستان ولسي جرگه یا د پارلمان د استازو غړیتوب انحلال شي، بیا تر نوي ولسي جرگې یا پارلمان تر جوړیدو پورې د لویې جرگې غړي د ولسي جرگې یا پارلمان استازیتوب کوي. په یو ټوپیر سره، چې د لویې جرگې غړي د ولسي جرگې د غړو په څیر قانوني مصؤنیت نلري.
لویه جرگه د پاچا ییا ولسمشر له خوا راغوښتل کیږي. لویه جرگه د کال په کې کوم معیین وخت کې نه راغوښتل کیږي، لویه جرگه له جوړیدو او د پریکړې له صادرولو څخه ورسته بیرته منحل کیږي. لویې جرگې تر اوسه د سیاسي واک په مرکز یا پلازمېنه کې لکه د افغانانو په لومړنۍ پلازمینه کندهار، دویمه پلازمینه کابل، د اماني دورې د واک مرکز ننګرهار او پغمان کې رابللي شوي دي. تر اوسه هیڅ کومه لویه جرگه د هیواد څخه بهر نه ده جوړه شوي.

د اوومې برخې پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ